طلوع افغان

نبوي مرغلري:
رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي:
ژباړه: الله جل جلاله ته افضل او کرامتي کس تقوادار انسان دی.
«رواه الترمذي»

پښې ویناوي:
حضرت علي کرم الله وجهه:
په ټولو چارو کې رښتینی اوسه! ځکه رښتیا غوره ملګری او مرستندوی دي.

مؤسس: مولوي صالح محمد "هوتک" | د امتیاز خښتن: د کندهار اطلاعات او فرهنګ ریاست | په اوونۍ کې دوه واره چاپیږي

د تأسیس کال: ۱۳۰۰ لمریز، دوشنبه ۲۲/ذوالحجة الحرام/۱۴۴۷هـ ق، ۱۸/غبرګولي/۱۴۰۵ل کال - ګڼه (۱۳) | Monday-8-June-2026 Issue: 13

د مطالبو سرلیکونه

- ځلور امامان؛ قدم په قدم! (ژباړه: مولوي محمد اکبر)
- د مخلوق د خوشحالۍ له پاره... (نعمت الله "شاکر")
- نن مسکین ته چاډوډۍ... (محمد نبي "سلطاني")
- ژوند: سیاحت او امانت (عبدالقادر "تکین")

د طلوع افغان خبري (سرلیکنه)

خپل ماشومان مو څنګه د ګرمۍ له اثراتو وساتو؟

په دې ورځو کې ګرمي ډېره شدیده سوې ده، کله چې هوا ګرمېږي، نو تر ټولو ډېر تأثیر یې پر ماشومانو وي، ځکه د دوی د بدن دفاعي سیستم کمزوری دی، نو ژر ناروغ کېدای سي، مور باید په هر حالت کې ښه پوره آمادګي ولري، د خپلې کورنۍ او ماشومانو روغتیا ته بشپړه پاملرنه وکړو.

زمور د زیاتره خلکو یوه لویه تېروتنه داوي، چې کورونو ته مېوې نه راوړي، یوازې د غنمو ډوډۍ او ځیني سبزیجات یې ورځنی خوراک وي، په داسي حال کې چې یو انسان خصوصًا ماشومان ډېر منظم غذایي رژیم ته ضرورت لري.

د ګرمۍ په زیاتېدو سره روغتونونه په ناروغو ماشومانو ډک سي، دغه ماشومان ګرمۍ وهلي وي، د بدن اوبه یې کمي سوي وي، په روغتونونو کې د سپرومانو په مرسته یې د بدن د اوبو توازن برابر سي او صحت یې یوځه ښه سي.

د دې له پاره چې د ګرمۍ په موسم کې د خپلو ماشومانو د روغتیا ښه ساتنه مو کړې وي، دا به ډېره ښه وي، چې زیات مایعات ورکړو، خصوصًا وطني مېوې لکه: هندوانې، خټکي، زردالو، شفتالو او داسي نور.

ښه خبره خو لا دا ده چې اوس هندوانې، خټکي او نوري وطني مېوې حاصل ته رسېدلي دي، په بازارونو کې خورا پرېمانه او په ډېر ارزانه قیمت پیدا کېږي.

یوه مناسبه هندوانه په بازار کې په شل افغانۍ پیدا کېږي، چې دا هندوانه د ځلورو کسانو له پاره ښه پوره کفایت کوي، نو که یوه ځلور کسیزه کورنۍ یوه هندوانه هره ورځ کور ته یوسي، د کورنۍ ټول غړي به د شدیدي ګرمۍ سره مقاوم کړي.

که چېرې په دې ګرمۍ کې مایعات زیات استعمال نه سي، بیا نو معلومه خبره ده چې ناروغۍ زیاتېږي، بیا به مجبور یو چې په تداوۍ باندي په سوونو آن په زرونو پیسې مصرف کړو، نو ښه دا ده چې د تداوۍ پر ځای، وقایه انتخاب کړو، همدا وطني مېوې هم غذا ده او هم شفا او د مریضیو په وړاندي یو ډېره مناسبه وقایه ده.

اداره

د اووزونو دوالیانو ترمنځ د همږغۍ په مجلس کې پر مهمو موضوعاتو خبري وسوې

د کندهار ولایت مقام پر ایکس پاڼه لیکلي، چې د ملک په کچه، د اوو زونونو د مسئولو والي صاحبانو ترمنځ، د شنبې په ورځ کندهار ولایت مقام کې د همږغۍ مجلس نوبتي غونډه جوړه سوه، چې په کښې کندهار والي الحاج ملامحمد شېرین آخند، د هرات والي شیخ مولوي نوراحمد اسلام‌جار، د بلخ والي الحاج ملامحمد یوسف وفا، د ننګرهار والي الحاج ملا محمد نعیم آخند، د کندز والي الحاج مولوي نصرالله مطیع، د کابل والي الحاج ملا آمین‌الله عبید او د پکتیا والي الحاج ملا مهر الله حماد ګډون درلودی.

د یاد مجلس په پیل کې کندهار والي د راغلو ولایتونو والیانو ته ښه راغلاست ووایه او مننه یې وکړه، چې د یو مهم مجلس د ګډون له پاره یې کندهار ته سفر کړی او دلته یې په یاد مجلس کې ګډون کوي.

همداراز په یاد مجلس کې د اجنډا مطابق، په هر زون کې د والیاتو ترمنځ، د تر سره سوو مجلسونو راپورونه، موضوعات او په اړه یې سوې پرېکړې واورول سوې، د هر زون د ولایتونو د موضوعاتو په اړه هر اړخیزې خبرې وسوې، کوم موضوعات چې د هر زون د ولایتونو په مجلسونو کې سوې وې، پرېکړه

۴مخ

د افغانستان لوی سفیر په نړۍ‌وال اقتصادي فورم کې ګډون وکړ

په مسکو کې د افغانستان اسلامي امارت لوی سفیر مولوي ګل حسن حسن د سنټ پیټرزبورګ په نړۍ‌وال اقتصادي فورم (SPIEF-2026) کې ګډون کړی دی.

په مسکو کې د افغانستان اسلامي امارت د لوی سفارت په «ایکس» ټولنیزه شبکه کې لیکل سوي چې مولوي حسن د فورم په څنډه کې له روسي چارواکو، اقتصادي استازو او د شانګهای همکاریو سازمان له ځانګړي استازي سره په کتنه کې د افغانستان او روسیې ترمنځ، د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو، افغاني صادراتو او سیمه‌ییزو اړیکو په اړه خبري کړې او د کتنې په پای کې د اقتصادي اړیکو پر پراختیا او د ګډو همکاریو پر دوام ټینګار سوی دی.

۴مخ

هلمند کې د برېښنا رسولو د یوې ستر پروژې چاري پیل سوې

د هلمند ولایت د سنګین ولسوالۍ اړوند، د سربان کلا په سیمه کې د برېښنا رسولو یوې ستر پروژې چاري د افغانستان برېښنا شرکت له بودجې د څه باندي ۱۲۱ میلیونو افغانیو په لګښت پیل سوي دي.

د دې پروژې د پرانیستنې په مراسمو کې د هلمند ولایت د برېښنا رئیس حافظ هدایت الله محمد، د سنګین ولسوال ملا امان الله متین، د ولسوالۍ امنیه قوماندان صابر مل، د برېښنا

۴مخ

ببلابېلي پراختیایي پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل سوې

د روزګان ولایت د کلو بیارغونې او پراختیا وزارت، په یاد ولایت کې ګټې اخیستنې ته د ببلابېلو پراختیایي پروژو د سپارلو خبر ورکړی دی.

د یاد وزارت په خپره سوې خبرپاڼه کې راغلي چې د روزګان د کلو بیارغونې او پراختیا ریاست له لوري د دې ولایت په چهارچینو ولسوالۍ کې د څه باندي ۶,۹ میلیونو افغانیو په لګښت، د ببلابېلو پراختیایي پروژو د جوړولو چاري بشپړې او ګټې اخیستنې ته سپارل سوي دي.

۴مخ

د کندهار مجلې د ۱۴۰۵ ل کال لومړۍ ګڼه چاپ او خپره سوه

د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست له لوري د کندهار مجلې د ۱۴۰۵ هجري لمریز کال لومړۍ ګڼه، چې پرله پسې ۱۲۹مه ګڼه کېږي، په ښه صحافت او کیفیت سره چاپ او خپره سوه.

په یاده مجله کې ببلابېل دیني، علمي، سیاسي، آدبي، ټولنیز او ورته نور مضامین لوستونکو ته وړاندې سوي او همداراز د کندهار او سیمې د علماء کرامو، اکاډمیکو استادانو، لیکوالانو، شاعرانو او څېړونکو په ټول پوره مضامین او لیکنې خپرې سوي دي.

۴مخ

د خوراکي او غیر خوراکي توکو د قاچاق مخه ونیول سوه

د نیمروز ولایت د فرعي ګمرکاتو ریاست د ګرځنده ټیمونو له لوري، د مرکز زرنج ښار د چهار برجکي ولسوالۍ په ډک سیمه کې د څه باندي دوه ټنه مسو د قاچاق مخه نیول سوې ده.

د یاد ولایت د فرعي ګمرکاتو رئیس ملا عبدالغفار محمود باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، د یاد ریاست د مسئولینو له لوري د تر سره سوو عملیاتو پر مهال دوه ټنه ۵۰۰ کېلو ګرامه مس چې به سیپاموټر کې ځای پر ځای سوي وو او غوښتل یې له نیمروزه پاکستان ته قاچاق کړي، مخه یې ونیول سوه.

۴مخ

بېلابېل موضوعات

څلور امامان؛ قدم په قدم!

لیکوال: عبدالله فاراني (اشتیاق احمدرح) ژباړه: مولوي محمداکبر ۴۴ برخه

هشیم بن بشیر د کتاب الجنائز املاء راته ویل چې د حماد بن یزید د وفات خبر راورسېدی، د هشیم بن بشیر تر وفات مخکې مې د عبدالمؤمن بن عبدالله بن خالد عیسی څخه د حدیثو علم حاصل کړ.

په ۱۸۲ هجري کې مې د «رِي» د عالم ابو مجاهد علي بن مجاهد کاملي څخه حدیث زده کړل، په همدې کال مې د «رِي» سفر وکړ، په ۱۸۶ هجري کې مې لومړی بصرې ته سفر وکړ، په ۱۸۷ هجري کې مکې مکرمې ته ولاړم، هلته د سفیان بن عیینه په خدمت کې حاضر سوم، زما مکې مکرمې ته تر رسېدنې لږ وړاندې فضیل بن عیاض وفات سوی و، په همدې کال مې لومړی حج یا د اسلام حج وکړ، د ابراهیم بن سعد څخه مې حدیث ولیکل او څو واره مې لمونځونه پسې وکړل، په ۱۹۸ هجري کې مور په یمن کې له عبدالرزاق سره و، چې د سفیان بن عیینه، عبدالرحمن بن مهدي او یحیی بن سعید خطان د مرګ خبر مو واورېدی.

په ۱۹۴ هجري کال کې په بصره کې مې د سلیمان بن حرب او ابو النعمان عارم او ابوعمر حوض څخه حدیث زده کړل او که زما سره پنځوس درهمونه وای، نو زه په «رِي» کې جریر بن عبدالحمید ته ورتلم، زما ځینې ملګري ولاړل، مګر زه نه ولاړم، کوفې ته ولاړم، په داسې ځای کې اوسېدلم چې بالنسبت مې د خښتي و، هلته مې تبه سوه، مور ته راغلم، زه د مور د اجازې پرته کوفې ته تللی وم.

پنځه واړي بصرې ته ولاړم، لومړی وار په ۱۸۶ هجري رجب کې، هلته مې د محمد بن سلیمان څخه حدیث واورېدل. دوهم وار په ۱۹۰ هجري کال کې ولاړم. درېیم وار په ۱۹۴ هجري کال کې ولاړم. له یحیی بن سعید سره شپږ میاشتي پاته سوم، د هغه ځای څخه واسط ته ولاړم، د یزید بن هارون خدمت ته ورسېدلم، دا خبره چې کله یحیی بن سعید واورېدله، نو و یې ویل:

احمد بن حنبل به له یزید بن هارون سره څه وکړي، هدف یې داو چې هغه تر یزید بن هارون په علم کې وړاندې دی. ابراهیم بن هاشم ویلي، یزید بن عبدالحمید د رِي څخه بغداد ته په دې خاطر راغلی او په بني مسیب کې پاته سو، د هغه ځای څخه شرقي بغداد ته راغی، په دې ورځو کې په دجله کې خطرناک سېلاب راغلی و، نو ما امام احمد بن حنبل ته وویل: راځه تر دې ور واوړو، د یزید بن عبدالحمید څخه حدیثونه واورو! نو امام احمد بن حنبل راته وویل:

زما مور ماته اجازه نه راکوي، په دجله کې سېلاب راغلی دی، نو زه یوازي ورغلم، حدیثونه مې ځني ولوستل، دا سېلاب په ۱۸۶ هجري راغلی و، په هغه وخت کې د هارون رشید له خوا د بغداد حاکم سندهي بن شایک و، نومورې خلک پر دجله باندې د اوښتلو څخه منع کړي وو.

یعقوب بن اسحاق ابو اسرائیل ویلي:

«زما پلار او امام احمد بن حنبل د علم تر لاسه کولو له پاره د سمندر سفر وکړ، چې کښتۍ ماته سوه، نو مور یوې جزیرې ته کښته سولو.

عبدالله بن امام احمد بن حنبل ویلي:

زما پلار د طرطوس سفر پر پښو وکړ.

امام احمد خپله ویلي:

«زه په یمن کې ابراهیم بن عقیل ته ورغلم، نومورې ډېر د سخت طبیعت څښتن و، هغه ته رسېدل ډېر ګران کار و، د هغه پر دروازه باندې به دي یوه ورځ تېروله، بیا هغه ته ور رسېدای سوای او هغه ماته فقط دوه حدیثونه راوښوول.

که څه هم له هغه سره ډېر حدیثونه و، مګر د ده د سخت طبیعت پر بنسټ مې وا نه ورېدای سوای.

امام صاحب د یحیی بن یحیی په اړه ویلي:

«زما په آند یحیی بن یحیی امام و، که چیرې زما سره د سفر خرڅ وای، نو زه هغه ته ورتلم!»

نور بیا...

د مخلوق د خوشحالۍ له پاره د خالق تعالی نافرماني کول؛ څه پایله لري؟

نعمت الله "شاکر"

حضرت معاویه رضي الله عنه ام المؤمنین حضرت عائشة رضي الله عنها ته لیک واستاوه او په کښې لیکلي یې و: ماته یوه مختصره توصیه ولیکه!

حضرت عائشة رضي الله عنها ورته ولیکله:

السلام علیکم...!

اما بعد: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي، هغه وفرمایل:

څوک چې د انسانانو په ناراضي کې د الله تعالی رضا او خوښي لټوي، نو هغه ته د انسانانو د ستونزو په وړاندې الله تعالی پوره کافي دی او څوک چې د انسانانو د رضا حاصلولو له پاره الله تعالی ناراضه کوي، نو الله تعالی به یې انسانانو ته وسپاري.

والسلام علیک (سنن الترمذي (۲۴۱۴)

ژباړه: شاکر

پایله: که څوک د حق منلو، حق ویلو او د حق څخه د دفاع په صورت کې، د انسانانو د خوابدۍ او ناراضۍ پروا و نه لري، نو الله تعالی د ده ملګرۍ او د ده له پاره کافي دی، یعني څوک خو ضرر نه سي ور رسولای، ممکن الله تعالی هغه ناراض انسانان ور سره پخلا او خوشحاله هم کړي.

څوک چې د انسانانو د خوشحال ساتلو له پاره الله تعالی ناراضه کړي، نو الله تعالی به دغه شخص انسانانو ته وسپاري، یعني الله تعالی به یې ساتنه نه کوي، حتی ممکن هغه انسانان هم ورسره خوابدي او دښمنان کړي.

یا هم چا چې د الله تعالی احکام د مخلوق د خوشحالولو له پاره پایمال کړل، نو الله عزوجل به هغه مخلوق هم ورڅخه ناراضه کړي، حتی ممکن هماغه مخلوق یې د ذلت سبب هم سي.

چا چې د الله د رضا له پاره د هغه د احکامو ساتنه وکړه، د مخلوق پروا یې و نه کړه، نو الله عزوجل به هغه مخلوق هم ورڅخه راضي کړي، حتی ممکن هماغه مخلوق یې د عزت سبب هم سي.

د رسول الله هره وینا صدق کوي او دا زمور ایمان دی، دغه وینا خو زمور د سترګو لیدلي حالات بیانوي!

نن مسکین ته؛ چا ډوډۍ ورکړې!

محمدنبي سلطاني

اسلام د رحمت، مهربانۍ، خواخوږۍ، مرستې، لاسنیوي او نېکیو دین دی. اسلام مسلمانان د عبادت ترڅنګ، د مسلمانانو خدمت، د غریبانو د مرستې، د ناروغانو پوښتنې او له خلکو سره د ښو اخلاقو کولو ته رابولي. د اسلام مبارک ارشادات مور ته دا درس راکوي چې یو مسلمان باید یوازي په خپلو شخصي عبادتونو بسنه و نه کړي، بلکې د ټولنې د خیر او د انسانانو د خدمت احساس هم ولري.

ابو هریره رضي الله عنه روایت کوي چې یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو صحابه کرامو ته وفرمایل: نن چا روژه نیولې ده؟

ابوبکر صدیق رضي الله عنه وویل: ما!

رسول الله صلی الله علیه وسلم بیا وفرمایل: نن چا د جنازې لمونځ اداء کړی دی؟

ابو بکر رضي الله عنه وویل: ما!

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نن چا کوم مسکین ته ډوډۍ ورکړې ده؟

ابو بکر رضي الله عنه وویل: ما!

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نن چا د ناروغ پوښتنه کړې ده؟

ابو بکر رضي الله عنه وویل: ما!

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په چا کې چې دا ټولې نېکۍ یو ځای سي، هغه به جنت ته داخل سي.

دا حدیث د اسلام د بشپړ ژوند یو غوره او ښکلی انځور وړاندي کوي. په دې کې روژه د الله تعالی عبادت دی، د جنازې لمونځ د مسلمان ورور حق دی، د مسکین مرسته، د رحم او سخاوت نخښه ده او د ناروغ پوښتنه، د مسلمان حق او د ورورولۍ څرګندونه کوي.

اسلام غواړي چې مسلمان په هر ډګر کې د خیر سبب وګرځي او هره ورځ خپل ژوند د نېکیو څخه ډک کړي.

په دې حدیث شریف کې د (نن) کلمه څو ځله تکرار سوې ده. دا مور ته دا درس راکوي چې مسلمان باید هره ورځ د نېکۍ فرصت ولټوي او که پلار د اولادونو د خوشحال ساتلو له پاره، د خالق جل شانه نافرماني کړې ده، الله عزوجل هغه پلار په اولادونو سپک کړی دی.

که خاوند د میرمني د رضا په غرض، د الله نافرماني کړې ده، ذوالجلال په هغه میرمن سپک کړی دی.

که ورور د ورور یا خور له پاره د الله نافرماني کړې ده، رب العالمین یې دغه ورور یا خور د اهانت او سپکولو سبب جوړ کړي دي.

که سیاست والاوو، د الله عزوجل په نافرمانۍ کې څوک راضي کړی دی، الله عزوجل هغه سیاست لرونکی، هماغه هیواد او اشخاصو ته حواله کړی او هغوې توهین کړی دی.

بالمقابل، دا مو هم لیدلي دي، چا چې د الله د رضا په خاطر د مخلوق ناراضي قبوله کړې ده، الله عزوجل یې کفایت کړی دی، هماغه مخلوق ورڅخه عذر غوښتی دی.

د الله عزوجل رضا باید شرط کړو، د مخلوق رضا که ورسره ملګرې وه، ښه تر ښه، که نه وه ملګرې، الله عزوجل مو کافي او ملګری دی.

ژوند؛ سیاحت او امانت!

عبدالقادر "تکین"

انسان په ژوند کې سیاحت، تفریح او ګرځېدلو ته اړتیا لري، سفرونه او تفریح روحي، ذهني او جسماني ستړیاوي رفع کوي، ځینې خو لا دا وایي: که غواړې چې ځوان پاته سې؛ نو سفرونه وکړې!

په سیاحت کې کولای سو، د الله تعالی د پراخو کائناتو څخه خوند واخلو، سیندونه، ځنګلونه او طبعي سیمې وویني او تر څنګ یې په ټول هیواد کې د امن/امنیت ستر نعمت شکر ادا کړو.

ابراهیم علیه السلام چې د مکې په ښار کې کعبه شریفه ودانه کړه، د دعاګانو څخه یې یوه ځانګړې دعا دا وه.

ای الله جل جلاله! د مکې ښار دامن ښار وګرځوه، نو د دې څخه معلومېږي چې امن لوی الهي نعمت دی، مور د دې فرصت څخه په استفادې کولای سو، د هیواد تر هري سیمې پورې په اطمینان او ډاډ سره وګرځو، خپل وبارلی کلتور او اسلامي اخلاق، د هیواد په لیرو او پرتو سیمو کې تمثیل کړو.

د سیاحت او تفریح په دوران کې د ځان ساتل، مهمه خبره ده، مور او زمور ژوند یو الهي امانت دی، د دې راکړې امانت ساتنه، پر هر انسان باندې فرض ده، ځکه د قیامت په ورځ، زمور ځخه د خپل عمر، وخت، ځوانۍ، مال او علم پوښتنې ضرور کېږي، مور ته په کار ده، چې په معنوي او جسماني لحاظ د ځان حفاظت وکړو.

لومړی: معنوي حفاظت د خپلو عبادتونو او عملونو خیال ساتل، اسراف/زیات لګښتونه نه کول.

د خبرو او ګرځېدلو خیال وساتل سي، ښاري نزاکتونه په پام کې ونیول سي.

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم حدیث شریف دی، هغه څوک کامل مسلمان دی، چې د لاسونو او خولې څخه یې خلک په امان وي.

مور ډېرې ځوانان وینو، چې د کور به ولایتونو او سیمو خلک یې، د بې نزاکتیو په وجه، په تکلیف کړي دي. د مسلمانۍ لوړ معیار حسنه اخلاق دي، مور باید خپلو افعالو او خبرو ته متوجه و اوسو.

د نظافت او خواپاکۍ خیال وساتو، هر چیرې چې کښېنو، استراحت کوو، د تګ په وخت کې کچرې او فاضله مواد په یو ګوښه ځای کې واچو.

دوهم: جسماني حفاظت څخه هدف د وسایلو سم استعمال، د تېز رفتار څخه ډډه کول، نامعلوم ځای ته نه تلل، د نابلده او په اخلاقي لحاظ د ټیټې کچې د خلکو ملګرتیا نه کول.

ملګری د انسان پر ژوند مستقیم اغېز لري، د داسې ملګرو انتخاب لازم دی، چې انسان په دنیوي او اخروي لحاظ ګټمن سي.

په دې اختر او نورو اخترونو کې زمور ډېرو ځوانانو د بې احتیاطۍ له کبله، خپلې کور نۍ د غم پر ټغر کښېنولې چې د دې داسې غمیزو جبران خورا زور غواړي، هیله ده چې زمور ځوانان د خپلو ځوانیو خیال وساتي، یو داسې سیاحت ترسره کړي، چې ځان، کور نۍ او نورو مسلمانانو ته یې خیر ورسېږي.

هیله ده، چې پر وخت له خپلو کور نیو سره یو ځای او په منظم ډول خپل ژوند ته دوام ورکړل سي.

دورکي اعلانونه

دورکي اعلانونه

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د نجيب الله حيدري آغا د عصمت الله د زوی او د حميدالله د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700252739

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د قدرت الله د عبدالرزاق د زوی او د حاجي خان محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0701148008

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د سميع الله رحمتي د رحمت الله د زوی او د عبدالله د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700874433

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د قدرت الله د عبدالرزاق د زوی او د حاجي خان محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0701148008

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د سميع الله رحمتي د رحمت الله د زوی او د عبدالله د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700874433

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د محراب خان د صاحب خان د زوی او د رحيم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0708884303

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د بي بي خالده د حاجي محمد قاسم د لور او د حاجي عبدالباقي د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700737203

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د نقيب الله پوپل د خان محمد د زوی او د گل محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0703794927

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د بشير احمد د محمد افضل د زوی او د موسی جان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0708852533

يوه پاڼه د مهاجرت فورمه چې د سيدر سول د محمد رسول د زوی په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0702965319

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د غلام حضرت د نور احمد د زوی او د بارک الدين د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700949477

يوه پاڼه د مهاجرت فورمه چې نور الله د حيات الله د زوی او د عبدالخالق د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0702502729

يوه پاڼه د مهاجرت فورمه چې د نوراحمد د محمد زي د زوی او د سيد رسول د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0706350392

يوه پاڼه شهادتنامه چې د صوفي صاحب ذکور عالي لېسې اړوند ده او د وحيدالله د امين الله د زوی په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0707212017

يوه قطعه برېښنايي بانکي کارټ چې د عبدالخالق آغا د محمد اکبر خان د زوی او د ستار شاه د لمسي په نامه دی، ورک سوی دی، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0707024077

يوه پاڼه د مهاجرت فورمه چې د نېک محمد د اختر محمد د زوی په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0704412024

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د سيد احمد د غلام جان د زوی او د رنگين د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700509551

دورکي اعلانونه

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د شکوفه د عبدالظاهر د لور او د عليزي د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0706564967

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د محمد بلال مهمند د حاجي محمد صديق د زوی او د حاجي محمد حسين د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0711111937

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د ملا نظر علي د عبدالخالق د زوی او د نور محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0705091420

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د داروخان د خدای دوست د زوی او حاجي نظر محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0703982155

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د عيسی محمد نوري د حاجي اختر محمد د زوی او د گل محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0704141523

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د نور الله د سبحان د زوی او د عبدالکريم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700785450

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د بي بي صفيه د محمدحسين د لور او د حاجي ملک د لمسی په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0701654366

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د سراج الدين د گل محمد د زوی او د حاجي سنگر د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700969683

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د جوريه د نظر محمد د لور او د راز محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700700761

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د محمد نبي عبدالرحيم د زوی او د عزيز الله د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0703362360

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د احمد الله د حسيب الله د زوی او د دوست محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0704185690

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د کريم الله د پاچا د زوی او د گل محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0703441093

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د نصير احمد د غلام سرور د زوی او د غلام محی الدين د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0708002180

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د جمعه گل د نظر محم د زوی او د لالي د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0704825988

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د سيد محمد نسيم آغا د محمد نعيم د زوی او د ميراجان آغا د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700773883

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د محمود د عبدالحليم د زوی او د حاجي نورالله د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0707305997

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د بلال احمد د نثار احمد د زوی او د حاجي بازمحمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0706898478

شعري برخه

د طلوع رنگيني وړانگي

غزل

مغفورالله شهيدزی

د مينې اخوت په تور تورن گرځي مغفور
د خدای له دې نعمته برخمن گرځي مغفور

حسد، بغض او کبر نه يې سخته بد راځي
په زړو کي به د هر سړي حتمن گرځي مغفور

د مور د دعاگانو برکت دی خلقه واوره!
کامياب په هر ميدان چې په دښمن گرځي مغفور

خدای داسي خوندور نصيب ورکړی حد يې نسته
نو ولي له خپل بخت به گيلمن گرځي مغفور؟

بې وسه دی کعبې! کنه په خدای چې شوق يې کېږي
ستا ديدته سم کړاند لکه مين گرځي مغفور

تر اوسه لا هم هغه خړ طالب د مدرسې دی
نه چيرته مل پاسوال سو نه جگړن گرځي مغفور

شهيدامير المؤمنين تقبله الله

احمد "خاطري"

چې ستا په وينو باندي بلي سوې ډېوې شهيده!
ولاړې د ظلم و اشغال توري تيارې شهيده!

په دې رڼا کي به رسېږي تر منزله پوري
ستاد سپېځلو پاکو هيلو قافلې شهيده!

د وخت فرعون يې دی غرق کړی له لښکرو سره
وينو دي "نيل" غوندي وهلي دي څپې شهيده!

تر دې به بل اعزاز نو چيرې وي په ورځ د محشر
د رب حضور ته رنگ په وينو چې راځې شهيده!

چې خپه نه سې هر ارمان دي پوره سوی دی نن
د آزادی پر افق وختې سپېدې شهيده!

د شهادت د قبوليت خواست دي کوي "خاطِري"
چې يادگارونو ته دي تم سي، څو شېبې شهيده!

غزل

احمدبريالی

لازمه نه برېښي چې وي لکه خاشې مخي ته
سپکي خاشې ورځي د هري دروازې مخي ته

د اعتبار وزن بسته په خپلواک عزم وي چې
پر قدمو و بلو سوخت وړې د حادثې مخي ته

توزنه هيله له کرمه د خدای باسي هر څوک
دوخت وگړي عزت ږدي د سرمايې مخي ته

د شرافت هر رنگ قابل د پوخ باور وي ځکه
د هر چا نوم ايږدي تاريخ د قبيلې مخي ته

د قبيلې له دود دستوره هغه تېښته کړي چې
ځانونه دفن کړي د قام د احصائيې مخي ته

په سجدو د کبر جنو زړونه مسخه سي چې
خالي سرونه يې ورځي بې اندازې مخي ته

د چاپلوسۍ په رنځ اخته وي سړي هغه ستړي
چې منصبدارو ته ورځي بې ارادې مخي ته

د "**بريالي احمد**" په فکر محيط جوړ نه سي چې
لکه ماشوم چې فکر کړي د مغازې مخي ته

مسئول مدیر: بریالی "فیضي"
د تصحیح مسئول: حاجي عبدالله "ذاکري"
کمپوز او ډیزاین: نصیر احمد "صابر"
د مدیریت شمېره: ۰۷۰۵۶۰۸۶۷۳
د توزیع مدیریت شمېره: ۰۷۰۰۴۹۱۴۳۶
پته: علامه حبیبي واټ–اطلاعات او فرهنګ ریاست
د برېښنالیک پته: baryafaiz981@gmail.com

د ګډون کوونکو له پاره خبرتیا!

د طلوع افغان تاریخي خپرونه چې د هیواد په مطبوعاتي تاریخ کې خانګړی ځای لري. که غواړئ چې د لمریزکال په آخرکې د طلوع افغان تاریخي ورځپاڼي یو بشپړ کلکسیون ولرى، په طلوع افغان ورځپاڼه کې ګډون وکړئ.

د ګډون کلنی بیه ۵۰۰- پنځه سوه افغانی، زده کوونکو او محصلینو ته د تصدیق په وړاندې کولو سره نیمه بیه تاکل سوې ده.

اداره

طلوع افغان مدیریت له ټاکلي لیکنیز معیار سره سم، د لیکنو په اصلاح کې د لاسوهنې حق لري.

ګرانو لوستونکو! په ډېر احترام هیله کېږي، چې دا سپېڅلې پاڼې بې ځایه و نه غورځوئ!

Founded in 1921 ISSue:13 Established in 1300 Hijri

اعلانونه او خبرتیاوي

قرارداد ونه کوي

د کندهار پوهنتون ریاست غواړي چې د خپلو ضرورتونو د پوره کولو په موخه، په کندهار پوهنتون کې د روغنیاتو په برخه کې قرارداد وکړي. که څوک د ذکر سوي قرارداد کولو خیال ولري، خپل غوښتنلیکونه دې د کندهار پوهنتون اړوند، د تدارکاتو آمریت ته، د جواز او تذکرې سره یو ځای، د روان ۱۴۰۵ل کال د جواز میاشتې د ځلورمې نېټې څخه بیا د همدې میاشتې تر ۲۴ نېټې پورې وسپاري او خپل آفر دې ترلاسه کړي، شرطپاڼه کتلای سي، تضمین نغداً اخیستل کېږي، د آفر خلاصولو نېټه، د جواز میاشتې ۲۵ نېټه، د دوشنبې ورځ، پر لس بجې، د کندهار ولایت مقام اړوند، د سکتوري ریاست په دفتر کې جلسه دائر ېږي، آفرونه د هئیت په حضور کې خلاصېږي، قرارداد په بند آفر سره تر سره کېږي، داوطلب دې خبر وي.

❁❁❁

د کندهار پوهنتون ریاست غواړي چې د خپلو ضرورتونو د پوره کولو په موخه، په کندهار پوهنتون کې د روغنیاتو په برخه کې قرارداد وکړي. که څوک د ذکر سوي قرارداد کولو خیال ولري، خپل غوښتنلیکونه دې د کندهار پوهنتون اړوند، د تدارکاتو آمریت ته، د جواز او تذکرې سره یو ځای، د روان ۱۴۰۵ل کال د جواز میاشتې د ځلورمي نېټې څخه بیا د همدې میاشتې تر ۲۴ نېټې پورې وسپاري او خپل آفر دې ترلاسه کړي، شرطپاڼه کتلای سي، تضمین نغداً اخیستل کېږي، د آفر خلاصولو نېټه، د جواز میاشتې ۲۵ نېټه، د دوشنبې ورځ، پر لس بجې، د کندهار ولایت مقام اړوند، د سکتوري ریاست په دفتر کې جلسه دائر ېږي، آفرونه د هئیت په حضور کې خلاصېږي، قرارداد په بند آفر سره تر سره کېږي، داوطلب دې خبر وي.

دورکي اعلان

یوه قطعه برېښنایي تذکره چې د محمد ادریس د صدیق الله د زوی او د حاجي باران د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0708073256

❁❁❁

د مهاجرینو ریاست اړوند، یو برېښنایي بانکي کارډ چې د عبدالسلام د اختر محمد د زوی او د عبدالکریم د لمسي په نامه دی، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0703875068

❁❁❁

یوه پاڼه د مهاجرت فورمه چې د باران د پیر محمد د زوی او د دوست محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0702036421

❁❁❁

د شهیدانو او معلولینو ریاست اړوند، یو بانکي کارډ چې د حفیظ الله د فضل صدیق د زوی او د عبدالله جان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0701330668

❁❁❁

یوه پاڼه د مهاجرت فورمه چې د حبیب الله د کمال الدین د زوی په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0702412136

❁❁❁

د شهیدانو او معلولینو ریاست اړوند، یو بانکي کارډ چې د فدا محمد د فتح خان د زوی او د حاجي تور د لمسي په نامه دی، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0747066011

❁❁❁

یوه پاڼه د دوولسم ټولګي شهادتنامه، چې د احمد شاه بابا د شپې لېسې اړوند ده، د سید احمد شاه د سید ظاهر د زوی په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0703295310

❁❁❁

د مهاجرینو ریاست اړوند، یو برېښنایي بانکي کارډ چې د اختر محمد د آغا محمد د زوی په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0711862745

❁❁❁

یوه پاڼه د مهاجرت فورمه چې چې د شکوفې د ولي محمد د لور په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0703611415

❁❁❁

یوه پاڼه د مهاجرت فورمه چې د تور جان د محمد د زوی په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0702974513

(۱) مخ پاتې: د اوو زونونو دوالیانو ترمنځ د همږغۍ...

وسوه، چې د اړتیا په صورت کې دي، په نورو زونونو کې هم تطبیق سي، ځکه یاد موضوعات مهم او د تطبیق اړتیا یې ډېره ده.

همدارنګه د اجنډا مطابق د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی د فرمانونو او حکمونو د تطبیق، د امنیت د لا ښه ټینګښت، د جنایي پېښو مخنیوي، د امنیتي او ملکي چارو د لا ښه تنظیم، د هر ډول نشه یي توکو د کښت، قاچاق، پیر او پلور د مخنیوي، له فساد سره د جدي مبارزې، له معلولو مجاهدینو او یتیمانو سره د مرستو کولو او دوی ته د لا ډېرې پاملرنې، د اړمنو سوالګرو ثبت او ور سره د مرستو کولو، د مجاهدینو د روزنې، د عامو هیوادوالو ستونزو او غوښتنو ته د ژر رسېدنې او یو شمېر نورو موضوعاتو وړاندې او په اړه یې تر هر اړخیز بحث او نظرونو شریکولو وروسته لازمي پرېکړې هم ونیول سوې.

د یادونې وړ ده، چې د غونډې په آخر کې د لازمو لارښوونو اخیستلو په موخه یو شمېر موضوعات د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله تعالی د دفتر محترم او عالي مقام ته هم وړاندیز سول.

(۱) مخ پاتې: د افغانستان لوی سفیر په نړۍ وال...

د بل خبر له مخې په مسکو کې د افغانستان اسلامي امارت لوی سفیر سن پیټرز بورګ ښار ته د خپل سفر په ترڅ کې له مېشتو افغانانو سره کتلې دي.

د افغانستان اسلامي امارت د لوی سفارت په «ایکس» ټولنیزه شبکه کې لیکل سوي چې په دې کتنه کې د افغانانو د سوداګریزو، ټولنیزو او قونسلي ستونزو په اړه خبري سوي او ګډونوالو خپلې غوښتنې او وړاندیزونه له لوی سفیر سره شریک کړي دي.

لوی سفیر هم ډاډ ورکړی چې د افغانانو د ستونزو حل او په روسیه کې ورته د اړینو خدمتونو او اسانتیاوو برابرول یې، په لومړیتوب کې دي.

مولوي حسن همدا رنګه د افغانانو ترمنځ پر یووالي، همږغۍ او متقابلې همکارۍ ټینګار کړی دی.

(۱) مخ پاتې: د هلمند کې د برېښنا رسولو...

ریاست عملیاتي مرستیال وحیدالله علیزي او یو شمېر نورو مسئولینو ګډون کړی و.

په جوړو سوو مراسمو کې د سنګین ولسوال ویلي، د دې پروژې په بشپړېدو سره به د سنګین ولسوالۍ اوسېدونکي د ۲۴ ساعته برېښنا څخه برخمن سي او د برېښنا اړوند به، د خلکو ګڼې ستونزې هواري سي.

د مسئولینو په وینا، یاده پروژه د سربان کلا د برېښنا وېش شبکې د ظرفیت لوړونې او د برېښنا د ضایعاتو د مخنیوي په موخه پلي کېږي، چې په کښې د برېښنا ۱۶۷۴ پایې، ۴۳ ترانسفارمرونه، مېټربکسونه، براکېټونه او د برېښنا لینونو نښلول شامل دي.

د سنګین ولسوالۍ اوسېدونکو د دې پروژې له پیل هرکلی کړی او ویلي یې دي، چې خوا د برېښنا د نستوالي له امله له ګڼو ستونزو سره مخ وو، خو د دې پروژې په بشپړېدو سره به یې ستونزې تر ډېره حده حل سي.

د یادونې وړ ده، چې د افغانستان برېښنا شرکت، په وروستیو کې د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې د برېښنا د پراختیا او د خدماتو د ښه والي له پاره ګڼې پروژې پیل کړي دي.

(۱) مخ پاتې: بېلابېلي پراختیایي پروژې ګټې...

ویل سوي چې په دغو پروژو کې د ۲۵,۹۵ کېلومترو په اوږدوالي د کانالونو پاکول، د ۱۴۸ مترو په اوږدوالي د استنادي دېوالونو او ۲۷ مترو په اوږدوالي د واش جوړول شامل دي.

هېره دي نه وي چې د یادو پروژو د تطبیق په بهیر کې لسونو کسانو ته کاري زمینه برابره سوې او په بشپړېدو سره به یې په اړوندو برخو کې د یادي ولسوالۍ د اوسېدونکو ستونزي هواري سوي.

(۱) مخ پاتې: د کندهار مجلې د ۱۴۰۵ ل کال...

د یادي مجلې لوستونکي او مینه کوالی سي، چې د مجلې د ترلاسه کولو له پاره اطلاعات او فرهنګ ته مراجعه وکړي او د خپلو لیکنو، شعرونو او مضامینو د خپرولو له پاره په یاد ریاست کې د مجلې مدیریت ته مراجعه وکړي.

د یادونې وړ ده، چې کندهار مجله؛ د ادب، فرهنګ، تاریخ او فکري ودي یوه ارزښتمنه خپرونه ده، چې په دوو میاشتو کې یووار خپرېږي.

(۱) مخ پاتې: د خوراکي او غیر خوراکي توکو...

د بل خبر له مخې د هلمند ولایت د فرعي ګمرکاتو ریاست ګرځنده ټیمونو د تېرې یوې اوونۍ په ترڅ کې د مرکز لښکرګاه او ګرمسېر ولسوالۍ په اړوندو سیمو کې د ۱۵ ټنه او ۲۴۱ کېلو ګرامه خوراکي او غیر خوراکي توکو د قاچاق مخه نیولې ده.

د یاد ریاست رئیس حاجي حقمل صاحب باخترا طلاعاتي آژانس ته ویلي، قاچاق وړونکو غوښتل دغه توکي د اتو بارووړونکو موټرونو په وسیله په غیر قانوني ډول هلمند ته راوارد کړي، خو د ګمرکي ټیمونو له لورې نیول سوي دي.

د هغه په خبره، د پېښې په ترڅ کې ۱۰ تنه هم نیول سوي او تر لومړنیو پلټنو وروسته اړوندو ادارو ته سپارل سوي دي.

د هلمند د فرعي ګمرکاتو ریاست د معلوماتو له مخې، د قاچاق د مخنیوي عملیات دوام لري او تر دې وړاندې هم ګڼ شمېر کسان د غیرقانوني توکو د لېږد په تور نیول سوي وو.

ټولنیزې رسنۍ

Abrar Agha:

ځوانان مه مایوسه کوی، هر یو غلطي لرو، د بدو ویلو پر ځای، باید یو او بل وستایو، که څوک تر چوکاټ وځي، باید متوجه یې کړو، د یو او بل د پښو پر ځای، باید یو او بل ته لاسونه سره ورکړو!

Bahram jan Zazai:

هیڅکله مه ناامیده کېږه، ځکه د خدای جل جلاله فیصلې جلا دي!

اصل دین ځدرانۍ:

یونانیانو ویل چې ښځه تر مار هم خطرناکه ده.

سقراط ویلي و، چې په نړۍ کې تر ښځې زیاته بله هیڅ فتنه او فساد نسته.

بوناوویو کر ویلي و، چې ښځه هغه لړم ته ورته ده، چې هر وخت د چیچلو په فکر کې وي.

یوحنا ویلي، ښځه د شر لور، د امن او سلامتۍ دښمنه ده.

د رومي کاتولیک فرقې د تعلیماتو له مخې، ښځه نه سي کولای مقدس کتاب ته لاس ور وړي او ښځه اجازه نه لري چې کلیسا ته ننوځي.

د عیسایانو په تر ټولو لویه واکمنې رومة الکبرا کې ښځې له غلامانو هم په بدتر حالت کې وي او له هغوی سره د حیواناتو په څېر چلند کېدی.

په اروپا کې تر ټولو زړورې ښځې ژوندی اور ته اچول کېدلې.

د جاهلیت په دورو کې په عربو کې ښځې په شعرونو کې سپکې او بې عزته کېدلې او کله چې به د چا لور پیدا کېدله، ژوندۍ ښخېدله.

د انسانیت د محسن، د رحمت العالمین حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم له خوا ښځې ته هغه مقام ورکړل سو چې تر نن ورځې پورې په هیڅ دین کې نه دی ورکړل سوی:

که ښځه مور وي، د هغې تر پښو لاندې جنت دی.

که لور وي، د بخښنې وسیله ده.

که خور وي، د عزت وسیله ده.

صلی الله علیه وآله وسلم

ژباړن: اصل دین ځدرانۍ.

Doctor Sawash:

– که غواړې د مقابل طرف ارزښت معلوم کړې؛ نو عزت یې وکړه!

– که غواړې خبرې دي پر مقابل طرف تأثیر وکړي، نو ستاینه یې وکړه!

– که غواړې نارینه په دام کې واچوې؛ نو هوس ور مخ ته کړه!

– که غواړې ښځه په دام کې واچوې؛ نو پیسې یې مخ ته کښېږده!

– که غواړې خبره دي په یو چا ومنې؛ نو ډالۍ ورته ولېږه!